# د درویش دراني د شاعرۍ ټولنیزو اړخونو ته کتنه

لیکوال **شربت خان سهاک**
برېښلیک پوهنتون بدخشان، دیپارتمنت پشتو
Sahaksahak١٤٥@gmail.com

## لنډیز

درویش درانی چې اصلي نوم يې عبيد الله دی د ملا احمد شاه زوی او د ملا احمد علي لمسی دی په کال ۱۹۵۳م کې د جون د میاشتې په څلورمه نېټه د پښین په ګلستان کې زیږېدلی دی. نوموړي پښتو ژبې ته ډېرآثار پنځولي دي، منظوم او منثورآثار لري، خو په دې آثارو کې د پښتنو ناخوالو او ناوړه دودونو ته اشاره کړې ده، درویش درانی له هغو شاعرانو څخه دی، چې د افغانستان وروستۍ غمیزه يې په پوره هنر سره انځور کړې ده. درویش درانی د پښتوژبې نازک، لوړ، حماسي ، اصطلاحي او هنري جذباتو سر شاره شاعر دی، چې د شعر او شاعرۍ په ډګر کې يې په خپلوخوږو اشعارو د ادب تږي اوبه کړي دي، اهونه يې انځور کړي او د ظالمانو او جابرانو ظلمونه يې غندلي او رسوا کړي دي. دا څېړنه د مقالې اصولو ته په پام سره پایله، مناقشه، کلیدي پوښتنې او اخځلیکونه هم لري. هڅه شوې، چې د شاعر له ګڼو شعرونوڅخه لنډې او رسا بېلګې غوره شي.

**کلیدي اصطلاحات:** درويش دراني پېژندنه، آهنګینه ژبه، ټولنیزه شاعري، شعریت او بدیعي ښکلاوې.

# An Examination of the Social Aspects of the Poetry of Darwish Durrani

Author **Sharbat Khan Sahak**
E-Mail Sahaksahak١٤٥@gmail.com

## Abstract

Dervish Durrani, whose real name is Obaidullah, is the son of Mullah Ahmad Shah and grandson of Mulah Ahmad Ghani, was born in Golestan on the ٤th of June, ١٩٥٣. He has many verses and proses phenomenal in Pashtu literature. In his poetry, he mentions the discomfort and bad customs of Pashtuns.Dervish Durrani has reflected the last tragedy of Afghanistan with pure art.Dervish Durrani is a soft, high, epic, terminological, and artistic sentiments poet of the Pashtu language. He has quenched the thirst for literature with his sweet poems in the field of poetry. He condemned the atrocities of the oppressors and disgraced them. This research is based on the principles of the article, which conclude, the result, the dispute, key questions, and sources and an attempt has been made to select a short example of the poet from various poems.

Keyword: Darwais Dranay.ganeral poetry. Original beauties. coherent language.

## سریزه

ادب د ژوند زانګو ده د ژوند او ټولنیزو معاملاتو رښتیني انځور دی او ادبیاتو د ولس سیکالوژي، دود، عنعنې او په ټولنیزه توګه د فرهنګ بې نیازه هنداره ده. ادیب د دې هرڅه ژبه ده، خو ادیب باید د ټولنې د هر اړخ یو داسې انځور ګر وي، چې د ټولنې هنري تابلو وړاندې کړي او د ریالیستیکو ښېښو رومانتیکه فلسفه تشریح کړي.

زما د علمي مقالې موضوع د یو داسې خوږ ژبي شاعر د شعر او شاعرۍ د ټولنیز اړخ څېړنه ده، چې په نړیواله کچه یې خلک پېژني. د یادولو وړ ده، چې د درویش دراني شعر او شاعري تر ډېره ټولنیز اړخ لري، تل یې د خلکو بې وسی، د پښتنو د ناخوالو او ناوړه دودونو ته د شعر په ژبه اشاره کړې ده او همدارنګه یې د مینې او تصوف دواړو برخو ته شعرونه لیکلي دي.

درویش درانی د شعر په اړه وایي : زه شاعري تش د ساتیرۍ شی نه ګڼم، بلکې دامې خیال دی، چې شاعر د ټولنې په وده او تعمیر کې باید رول ولو بوي. په شاعرۍ کې په کار ده، چې د ظلم، جبر او نا انصافۍ خلاف اواز پورته شي. په معاصرو شاعرانو کې به ډېر لږ کسان وي، چې د درویش دراني د غزل د ښایست او سادګۍ او د هغه د نظمونو د طرحو د ژوروالي او ښکلا سره سیالي و کړای شي.

په دې مقاله کې د ټولنیزو شعرونو بېلګې را اخیستل شوي او تحلیل شوې دي، چې د جوړونې په بهیر کې یې شاعر له ادبي صنعتونو په ځانګړې ډول د معنوي بدیعی صنعت، تقابل، تلمیح او تشبیه څخه هم ګټه اخیستې ده، خو د ټولنیزو شعرونو په مرسته یې د کمال پړاوته رسیدلې دي. غواړم خپله خبرې د درویش دراني په یوڅو بیتونو سره رالنډې کړم.

خدای خبر چې بلا وه په هر کور

تر سهاره به ژړا وه په هر کور کې

دومره زیات غربت هم نه و په وطن کې

سا مو واخیسته هوا وه په هر کور کې

## د مسالې بیان

په پښتو ادب کې یوازې درویش درانی نه دی ، چې د ټولنې عیبونه یې را سپړلي دي ، بلکې د دې ورته نورشاعران هم لرو لکه : ګل پاچاالفت ، قیام الدین خادم او داسې نور، چې د هر یو شعر د شاعري فکر د ارزښت وړ دی ، په دې مقاله کې زیارایستل شوی دی ترڅو د درویش دراني په شاعري باندې بحث وشي د ده ټولنیزې شاعري سره خلک آشناشي دا مقاله په دې پوښتنوسره درویش دراني څوګ وه . د ده د شعرونو محتوا ټولنې ته څه پیغام له ځانه سره لري او کوم ادبي فنون یې کارولی دي ؟ د دنه ځواب ووایي .

## د څېړنې پوښتنې

۱- د درویش دراني د شعرونو محتوا ټولنې ته څه پیغام لري؟

۲- درویش دراني په خپلو شعرونوکې کوم فنون ډیرکارولي دي؟

۳- د شاعرد منظوم کلام د بیلابیلو اړخونوسره بلدتیا؟

۴- درویش دراني د ټولنې په کومو اړخونو باندې زیاته نیوکه کړی ده ؟

## د څېړنې موخې او ارزښت

د علمي مقالې لیکل د علمي رتبې تر لاسه کولو لپاره اړین شرط دی؛ نو د همدې اړتیا ته په کتو سره ما خپله علمي مقاله ( د درویش دراني د شاعرۍ ټولنیزو اړخونو ته کتنه ) تر عنوان لاندې وټاکله، همداشان د دې څېړنې یوه موخه هم ده، چې په دې اړخ کې باید ډېر کار وشي ځکه د درویش دراني د شاعرۍ پر دې اړخ تر اوسه کومه لیکنه او څېړنه نه ده شوې ما هم په دې څېړنه کې تر خپله وسه هڅه کړې، چې د درویش دراني د شاعرۍ ټولنیزو اړخونو ته پوره کتنه وکړم.

## د موضوع شالید

د مخه تر دې، چې د دې موضوع په اړه د ترسره شوي کار جاج واخلم د دې خبرې یادونه اړینه ده، چې زما د معلوماتو له مخې تر اوسه په پښتو ژبه او ادب کې په دې موضوع کې کومه بشپړه او اکاډمیکه څېړنه نه ده شوې، ځکه چې د درویش دراني په شعر کې ټولنیزو اړخو ته کتنه نه ده شوې. که چا کومه لیکنه

کړې وي، هغه به د درويش دراني په عمومي برخه کې يا به په نورو اړخونو کې وي؛ خو زما ليکنه او څېړنه له هغوی سره پوره توپير لري، ځکه علمي او ليکلي آثار د يو لوی بحر په شان دي، چې هر څو مره پلټنه په کې وشي بيا هم ټولې خوا وې نه شي رانغاړلی.

## نتايج او موندنې

### د څېړنې ميتود

هرڅېړنه او ليکنه بېل روش او ميتود لري، چې د همدې لارې په ټاکلو سره يو څېړونکی خپله موضوع تر څېړنې لاندې نيسي؛ نو ما د همدې ارزښتونو پربنسټ د خپلې څېړنې لپاره هڅې ګړندۍ کړې او د موادو په راټولو مې پيل وکړ يو څه ضروري مواد مې په اختيار کې درلودل او بيا مې د څېړنې ميتود غوره کړ، چې دغه ميتود تحليلي او تشريحي دی نو په دې اساس زما د علمي مقالې ميتود کتابتوني بڼه غوره کړه.

### د څيړنې ارزښت

د دې څيړنې ارزښت او اهميت دادې ، چې د داسې يو خوږ ژبي شاعر د شعر او شاعري د ټولنيز اړخ څيړنه ده ، چې په نړيواله کچه يې خلک پيژني . د يادولووړده ، چې ذ درويش دراني شعر او شاعري تر ډيره ټولنيز آړخ لري ، تل يې دخلکو بې وسی ، د پښتو د نا خوالو او ناوړه دودونو ته دشعر په ژبه اشاره کړې ده او همدارنګه يې د ميني او تصوف دواړو برخوته شعرونه ليکلي دي.

### د درويش دراني شعر او شاعري

### زيږيدنه:

درويش درانی چې اصلی نوم يې عبيدالله دی د ملااحمد شاه زوی او د ملا احمد علي لمسی دی په کال ۱۹۵۳م کې دجون د مياشتې په څلورمه نېټه د پښين په ګلستان نومي سيمه کې دې فانې نړۍ ته سترګې غړولې دي. د ده کورنی يوه علمی، دينداره ا وعارفانه کورنی ده، چې تر اووم پښت پورې د ده نيکونه عالمان او عارفان تېر شوي دي.

درويش درانی که څه هم په سهيلی پښتو نخوا کې زيږيدلی دی، خو په اصل کې د افغانستان د قندهار ولايت د ارغستان ولسوالی اوسيدونکی دی، د ده نيکونه هم پر ارغستان کې خاورو ته سپارل شوي دي، خو پلار يې د عليحضرت محمد نادر شاه د پاچاهی په مهال کې په قندهار کې د وزير محمدګل خان مومند تنظيمه رياست و، له قندهار څخه د جنوبي پښتونخوا ګلستان نومي سيمې ته وکوچيده او هلته يې استوګنه پيل کړه.(وفا: ۱۳۸۹ل-۳۲مخ)

### زده کړه

مجله علمی تحقیقی پامیر - دپامیر علمی څیړنیزه مجله - Pamir Academic & Research Journal

درويش دراني خپلې لومړنۍ زده کړې يې له خپل پلار څخه کړي او ترلسم ټولګي پورې په ګلستان او له لسم څخه تر څوارلسم ټولګي پورې بيا په کوټه کې ترسره کړي دي. د بشپړو لوړو زده کړو لپاره کراچۍ په پوهنتون کې داخله وکړه په همدې پوهنتون کې يې لوړې زده کړې بشپړې کړې او په همدې پوهنتون کې يې په انګليسي ژبه کې ماسټري هم تر لا سه کړه. ښاغلی دراني د پښتو ژبې تر څنګ په انګليسي، عربي، فارسي او اردو ژبه کې هم پوره وړتيا او برلاسي لري.

## دندې:

ښاغلي دراني له زده کړو وروسته د کويټې په ګورنمنټ ساينس کالج کې د اسيستانت پروفيسور په توګه دنده پيل کړه. دراني صاحب د دې سيمې يو بشر دوست، په خپل افغاني کلتور مين، ملي مبارز، پراخ فکر او غيور افغان دی، چې د روښانه فکر او قلم له لارې يې د افغانانو او پښتنود يوالي او ترقۍ لپاره د قدر وړ خدمات وړاندې کړي دي.(دراني :۲۰۱۸-۱۷۹مخ)

## آثار:

الف منظوم اثار: اغزنه لار، زخمي لاسونه، هوا او څراغونه، ستوري په لمن کې، په کاڼي کې هېنداره، په ناورين پسې ناورين، دا بوټي به لونګ شي او کر دګلو. د ده په منظومو اثارو کې ستوري په لمن کې، په کاڼي کې هينداره او هوا اوڅراغونه مشهورې شعرې ټولګې دي.

ب ـ منثور اثار : په منثورو اثارو کې د پښتوعروض په نثر ليکلی دی او بل نثری اثر يې پښتنې کړه وړه دی.

## شعر او شاعري:

درويش د نظم او غزل شاعر دی خو په غزل کې يې خوږلت او جذبات ډېر دي. درويش په شعر کې د پښتنو کامرانۍ او معايب دواړه په ښه توګه منعکس کړي دي. د پښتنو د نيمګړتياو په رابرسيره کولو کې ډېر ماهر دی او په داسې رنګينو الفاظو او عاطفي ژبه يې بيانوي، چې د پښتون د اصلاح لوی درس په کې پروت دی.

د رويش دراني په شاعرۍ کې ځانګړې لاره لري او د چا رنګ په کې نه ښکاري د روان دوران ټيټ او پاس، طبقاتي تضاد او دجګړې اوږده غميزه او په دغه جګړه کې د پښتنو تباه کيدل لکه اور ته د خاشاکو په څير لوېدل او سوزيدل د درويش د شعر عمده موضوعات دي. دی په وطن او خلکو مين شاعردی او د وطن او خلکو ناوړه حالاتو ته د ده زوريدل په هر ښار کې ځان ښکاره کوي.(باجوړی :۱۴۰۱-۲۶۶مخ)

دراني د کوچنيوالی څخه د شعر او شاعرۍ سره مينه درلوده او دا ولولې يې په زړه کې ګرځيدې حقايقو او واقعيتونو ته يې زياته پاملرنه کړې. دراني د شعر په هکله وايې: زه شاعري تش د ساتيرۍ شي نه ګڼم، بلکې دا مې خيال دی، چې شاعر د ټولنې په وده او تعمير کې بايد رول ولوبوي. همدارنګه د ده په شاعرۍ کې(

بعضی واړه داستانونه)، د ټولنې د ټولنیزو اړخونو ترڅنګ د پښتنو ناخوالو او ناوړه دودونو ته هم اشارشوې کړې ده.

د بېلګې په ډول یو نظم دی، چې عنوان یې پر ړومبی باران پیل کیږي:

ړومبی باران

د ګـــــولیو دا باران وروستی باران دی

چـــــې نن زه ورسره دلته مـــخامخ یــــم

دا بـــاران رایـــــا دوي هــغــــه وختـــــونه

چې په ژوند کې په ړومبی ځل پر ما باندې

وېرونکي ســـــرې ګــــــولۍ وې اوریدلې

زه ماشوم وم په هیڅ شي مي سر خلاص نه و

له خپــــل ځان ســــره مشغول ومه په لوبو

کړې خـــپلوانو د ټـوپکو خولې راخــلاصــــې

تــرې راو وتـــې لـــمبې او ډز هـــــار شــــو

را روانې شــــوې ګــولۍ زمــــا وخـــواتــه

ترپایه ...... (درانی :۲۰۱۲ع-۲۵۹مخ)

د دې نظم محتوا دا ده: پخوا د ځینو پښتنو قبیلو په باره کې یو رواج وه، چې هغوی د خپل یوه ماشوم روزنه داسې کوي، چې کله کله له لرې خطایي ډزې ورباندې کوي او موخه یې دا وي چې هغه زړه ور اموخته کړي او د ټوپک او ګولۍ وېره یې له زړه وباسي.

په شاعرۍ کې په کار ده چې د ظلم، جبر او نا انصافۍ خلاف اواز پورته شي.

درویش درانی د شعر په ژبه د یوالي غږ کړی دی او دایې ویلي دي که یوالی راشي ټول به یوه خوله او یولاس شو نو جګړه به هرومرو زموږ له وطنه کډه کوي.

درویش درانی وایي:

چې بیا نه توره پورته شي نه سر په وینو رنګ شي

بـــاداره دغه جـنــګ دې د وطـــن اخـــري جــنګ شي

چې زړونه ســــره یو کړو او لاسـونه ســـــره ورکړو

دا کاڼي به لعلونه شي دا بوټي به لونګ شي

مجله علمی تحقیقی پامیر - دپامیر علمی څېړنیزه مجله - Pamir Academic & Research Journal

(درانی :۲۰۱۸ع- ۲۵۱مخ)

درویش درانی: د شعر په ټولو تخنیکونو پوهېږي، وزن پوهنه کې ژوره مطالعه لري چې همدغه برکت دی، چې ښه غزل لیکي. ځینې غزلونه د پښتو ژبې شهکارونه ګڼل شوي دي. دا چې ښاغلی درانی هم زموږ په اوسنی ټولنه کې ژوند کړی نو حتمي خبره ده، چې د ده هنر به هم اوسنیو حلاتو ژوره اغیزه کړي وي. ځکه په خپل یوه غزل کې دې پایلې ته رسېږي، چې نور ستړیو راځي چې سوله وکړو.

منزل لیرې، لاره ورانه زه هم ستړی ته هم ستړی

څه دې خوښه ده ارمانه زه هم ستړی ته هم ستړی

نــه مـــې تــه شې هــیــر ولاړ، نه زمــا له خیــاله وځې

څه پخلا به شو جانانه زه هم ستړی ته هم ستړی

درانی صاحب وایي: چې په اوسنی وخت کې چاته لار هم نه شي ورښودلی دستي درته وایي ته په دې خبره کې هدف لرې.

دغه خبره دراني په خپل یو بیت کې راخیستې ده، چې هم وطن سلامت غواړي او هم سر.

ریښتیا هم وایم، خوشالي د ملت هم غواړمه

عــــجب ساده یمه لا ســـر سلامت هم غواړمه

که ستوری نه یمه د اسمان تمنا هم نه کومه

که یم ګلاب نو بیا د خاورو قربت هم غواړم

(درانی :۱۹۱۸ع-۲۵۱مخ)

درویش د پښتو ژبې هغه نوښتګر شاعر دی، چې ځانته سبک او لار لري نوموړی سره له دې چې پښتو ژبه او ادبیاتو کې ژوره مطالعه لري تر څنګ یې نړیوال ادبیات هم مطالعه کړي دي.

له نیکمرغه په اوسني وخت کې دوه داسې شاعران شته چې په دغه پله روان دي.

یعنې د خوشحال خان عنعنه پالي چې یو یې درویش درانی او بل یې رحمت شاه سایل دی؛ خو دا هم باید ووایو چې درویش خپله ټوله شاعري دغه مقصد ته وقف کړې ده. درویش په شاعرۍ کې هغه څه په نظر راځي چې د خوشحال په شاعرۍ کې وو خو په دومره توپیر چې خوشحال د خپل وخت او خپل ټولنیز موقف له مخې په خپلو ویلو کې توند، ډاډه او بې پرواو دی. درویش په وینا کې د شاعر عاطفه، صداقت اوخواخوږي ډېره غالبه ده.

درويش هغه شاعر دی چې موږ ته زموږ نيمګړتياوې او خطاوې په داسې هنرمندانه ډول يا دوي چې موږ نه غوصه کوي او نه مو را پاروي بلکې په خپلو غلطيو مو ژړوي. يا په بله وينا د پښتنو غوندې سرکشه قوم ته د ويلو په هنر ډېر ښه پوهېږي او په دې توګه زموږ ټولنيزه روزنه کوي.

تا دښمن هم په امان رساوه کورته

موږ ملګري خپل په لار کړل زخم زخم

پر تا باندې د غليم او لاد هم ګران و

موږ بچي د مور او پلار کړل زخم زخم

درويش د خپلې شاعرۍ د پيل په وخت کې د اجمل خټک تر تاثير لاندې و خو د وخت په تېريدو يې بيا خپله لار بېله کړه. درويش په يو بل شعر کې همدغه موضوع داسې يادوي:

لا تـــر اوســـه وهي يو د بل ســـــرونه

لا تـــــــر اوســـه يو د بل په وينو پايي

بلل کيږي پښتانه دايمي مـــعـــمول دی

ورور د ورور او خپل د خپل په وينو پايي

د پښتنو د تربګنو او ورور وژنې دغه غميزه خوشحال خان هم ډېره ژړلې ده او درويش هم دغه غميزه په داسې هنرمندانه ډول وړاندې کوي چې په زړه او ذهن کې ځای نيسي او هر يو په خپلو کړو پښيمانه کوي.

ما خپله توره کړه د ورور په زړه کې ماته خدايه

چې دښمن راغی زه په دوه لاسه وم پاته خدايه

پښتانه په سياسي لوبو کې همېشه بايلونکي دي. په توره وهلو کې تکړه وي خو درويش په وخت کې بيا په دروازه کې ولاړ وي. خوشحال هم په خپلو شعرنو کې ځو ځايه دې خبرې ته اشاره کړې ده.

پښتانه په توره ښه دي تر مغلو

که په پوهه پښتانه وای څه هوښيار

(درانی :۲۰۰۲ع- ۴۴مخ )

درويش د امن او سولې شاعر دی. جنګ نه غواړي، خپل قام ته د تورې ماتلو بلنه ورکوي. د مينې، وروروۍ او محبت پيغام ورسوي:

رنګ به وي تر څو پورې په وینه توره ماته کړه
زړه د خـــلکو وګـــټه پـــه مـــینه تـــوره ماتـــه کړه
نه د ماشوم مخ ګوري او نه د شـــا لیلا ســـــینه
پورته کړه درویشه دا بې دینه تـــوره مـــاتـــه کړه

درویش د انساني مینې سبق په دې ډول وړاندې کوي:

لمن مې ډکه ده په کاڼو خو څوک نه پرې ولم
په عـــادتونو کې دا یـــو عـــادت د غـــره لـــرم زه

د درویش دوراني عزم او اراده ولس د امن او سولې غوښتنه باندې راڅرخي، ولس ته خواست کوي، چې بې ځایه تورې مه وهئ، د تورې پر ځای د مینې او وروګلوۍ لاره خپله کړئ. درویش درانی د پښتو د تېرو دوه نیمو لسیزو نماینده شاعر دی، چې د لرو برو پښتنو د چاپېریال او فکر پلوشې یې په شعر کې د اوچتو خیالونو او ژور عاطفي تړون په بڼه څرګندوي.

درویش درانی تر نورو شاعرانو د پښتنو په ساډوبي حال ډېرغمجن دی:

دا چې ځړېږي مخامخ درته په دارسرونه
په دې وطن کې بس همدغه وو د کار سرونه
وړې یې هسې هم غاصب همېشه وړي په زوره
کشکې دا ځل زموږ غنم وکړي د مار سرونه

(وفا: ۱۳۹۸ـ۳۳مخ )

## مناقشه

د درویش دراني په شعرونو کې د پښتنو کامرانۍ او معایب دواړه په ښه توګه منعکس شوی دي د پښتنو د نیمګړتیاوو په را برسېره کولوکې ډېر ماهر دی او په داسې رنګینو الفاظو او عاطفي ژبه یې بیانوي، چې د پښتون د اصلاح لوی درس په کې پروت دی.

د ده په شعرونو کې د ټولنیز افکارو په اړه داسې کومه ځانګړې څېړنه نه ده شوې، چې د هغه حق وربانديې ادا شي. زموږ دغه نومیالی شاعر په زړه پورې شعرونه لري، چې د ده شعرونه د ادب مینه والو د ژوند بېلابېل اړخونه لکه: اخلاقي، اجتماعي او د وطن د مینې برخې روښانه کړي؛ نو هڅه شوې چې د درویش دراني د

شعر ټولنیز اړخونه ته کتنه تر سرلیک موضوع لوستونکو ته د دراني په شعرونوکې وړاندې کړم، تر څو د دراني د شعرونو مینه والو تنده پرې خړوبه شي، په همدې اساس د دې څېړنه اړینه بریښیده.

## پایله

درویش درانی له هغو شاعرانو څخه دی، چې د افغانستان وروستۍ غمېزه یې په پوره هنر سره انځور کړې ده. د پښتو ژبې نازک، عالي، حماسي، ملي، اصلاحي او هنري جذباتو سرشاره شاعر دی، چې د شعر او شاعري په ډګر کې یې په خپلوخوږو اشعارو د ادب تږي اوبه کړي دي. د پایلې په توګه دراني صاحب په خپلو شعرونو کې یې ټولنیزو موضوعاتو ته نغوته کړې او دا کوښښ یې کړی دی چې ټولنیزې موضوع ګانې د شعر په ژبه د اصلاح لپاره وړاندې کړي دي.

## وړاندیزونه

زه د هیواد اړوند درنو علمي او فرهنګي خلکوته ځینې ټکي په درنښت او درناوي سره د وړاندیز په توګه په لاندې ډول وړاندې کوم ، هیله ده چې پاملرنه ورته وشي .

۱- د دې څېړنې له شالید څخه څرګنده شوه ، چې درویش دراني په څېر به ډېر کم شاعران وي ، چې د ټولنې ناخوالی او د بې انصافي اواز یې د منظوم قلم په څوکه تر خلکو را رسولی دي د نوموړي لیکوال پر اثارو د ګوتو په شمیر کسانو څیړنې کړې دي نو دې ته اړتیا ده ، چې د نوموړي باندې مونوګرافونه ، تیزسونه ، او دده په آثارو باندې لیکنې او څېړنې ترسره شي .

۲- د درویش دراني د آثارو پیغام او محتوا د ویښ زلمیانو د نورو غړو د اثارو د محتوا او پیغام سره پرتله شي ، ترڅو د دوي ترمنځ مشابهتونه او اختلافونه څرګند شي .

۳- د نوموړي لیکوال آثار د هیواد په نورو ژبو په خاص ډول په دري او ازبکي ژبو وژباړل شي .

## ماخذونه


باجوړی، بریالی .(۱۳۷۸ل) . د ادبیاتو په لر کې. ننګرهار: حسام ادبي خپرندویه ټولنه .

باجوړی، بریالی .(۱۴۰۱ل) . معاصرتاریخ (اوښتون پړاو). کابل: جهان دانش خپرندویه ټولنه

دراني، درویش . (۱۹۱۸ع) . ستوري په لمن کې . کندهار: صحاف نشراتي مؤسسه کوټه.

دراني، درویش . (۲۰۰۲ع) . په کاڼي کې هنداره .کوټه: صحاف نشراتي خپرندویه ټولنه .

دراني، درویش . (۲۰۱۲ع) . کر د ګلو.کوټه: صحاف نشراتي خپرندویه ټولنه .

دراني، درویش . (۲۰۱۸ع) . په څراغ پسې څراغ. کوټه: صحاف نشراتي خپرندویه ټولنه.

دراني، درویش .(۲۰۱۳ع) . په ناورین پسې ناورین. کوټه صحاف نشراتي خپرندویه ټولنه.


مجله علمی تحقیقی پامیر - د پامیر علمي څېړنیزه مجله - Pamir Academic & Research Journal

وفا، محمد داود . (۱۳۹۸ل) . د پښتو معاصرادب تاریخ څلورم پړاو. جلال آباد: مومند خپرندویه ټولنه.